
# مسیر
ورځپانه
نوی لید، نوی مزل
www.maseerdaily.af

سه شنبه د ۱۳۹۷ د لړم ۱۵مه | د ۲۰۱۸ د نومبر شپږمه | دویم کال| ۲۸۰یمه ګڼه


## څېره
۴ مخ

### علاوالدین غلجي



# پر ایران د امریکا بندیزونه پیل شول، خو د چابهار برخلیک لا هم ګونګ دی




۳

### په ارزګان کې ستونزه څه ده؟
۲ مخ

### د افغان سولې په اړه د سیمه ییزې همکارۍ اړتیا
۳ مخ

### په حکومت کې د عقدو پالل د سولې پر وړاندې یو بل خنډ
۵ مخ

## بادغیس کې د هند په مالي مرسته د جوړ شوي ښوونځي ودانۍ پرانېستل شوه



هند په بادغیس کې د نجونو یوه ښوونځي ته نوې دوه پوړیزه ودانۍ جوړه کړې ده. د بادغیس ولایت په ابکمري ولسوالۍ کې د کوچه زرد د نجونو عالي لېسې نوې ودانۍ د یو لړ مراسمو په ترڅ کې د زده کوونکو پرمخ پرانېستل شوه. د ښوونځي نوې ودانۍ، چې د هندوستان په مالي مرسته جوړه شوې، د یادې ولسوالۍ سلګونو ښځینه زده کوونکو ته یې د زده کړو خوندي درسي چاپېریال برابر کړی دی. د بادغیس د پوهنې رییس ډاکټر زکریا رحیمي د یادې ودانۍ پرانېستل ددې ولسوالۍ د پوهنې کیفیت د لوړېدو په برخه کې یو مهم ګام وباله او له زده کوونکو او د سیمې له اوسېدونکو یې وغوښتل چې ساتنې او مراقبت ته یې جدي پاملرنه وکړي. په دې ودانۍ کې پر یو وخت شاوخوا ۷۰۰ زده کوونکي زده کړې کولای شي.

## ولسي جرګه: دیني عالمان دې د طاهر اشرفي د څرګندونو په تړاو خپل دریځ روښانه کړي

ولسي جرګې د پاکستان د عالماوو شورا د مشر وروستۍ څرګندونې چې ویلي یې دي، د سمیع الحق له وژل کېدو وروسته به په افغانستان کې جګړه پای ته ونه رسېږي، غیر مسوولانه بللې او له افغان دیني علماوو یې غوښتي چې په دې اړه خپل دریځ روښانه کړي.

د ولسي جرګې مشر عبدالرووف ابراهیمي د جرګې پرونۍ غونډې ته ووېل چې دا ډول څرګندونې د افغانستان په کورنیو چارو کې ښکاره لاسوهنه ده.

نوموړي ووېل چې د سمیع الحق وژل کېدل له افغانانو سره هېڅ تړاو نه لري او افغانان د پاکستان بې ثباتي نه غواړي.

دا په داسې حال کې ده چې د پاکستان د دیني عالمانو د شورا مشر مولانا طاهر اشرفي له پاکستاني ټلوېزیوني چینل جیو نیوز سره په خبرو کې ویلي چې د مولانا سمیع‌الحق په وژنې سره به د افغانستان په جګړه کې کمی رانه‌شي، بلکې څو چنده به زیاته شي.

د پاکستان د جمعیت علمای اسلام مشر مولانا سمیع الحق چې د طالبانو په معنوي پلار هم مشهور و، د جمعې په ورځ په راولپېنډۍ کې په خپل کور کې د چړو په ګوزارونو په مرموز ډول ووژل شو چې تر اوسه هم کومې ډلې او یا لوري د دې وژنې مسوولیت پر غاړه نه دی اخیستی.

د ولسي جرګې غړي وایي، د طاهر اشرفي څرګندونې سیاسي انګېزه لري او د دوی په خبره دا مسایل د پاکستاني استخباراتو په اشارې مطرح کوي.

## په خاص ارزګان کې د حکومت د اجراآتو څنډ د مرګ ژوبلې د ډېرېدو سبب شوی



۲ مخ

## در جنگ های اخیر در غزنی به نیروهای امنیتی و طالبان تلفات سنگین وارد شده است



مسوولان در غزنی می گویند که در جنگ های دوشنبه شب در این ولایت، ۱۳ سرباز امنیتی و ۲۲ طالب مسلح کشته شده اند.

محمد عارف نوری سخنگوی والی غزنی، دیروز به رسانه‌ها گفت که دوشنبه شب طالبان در ولسوالی خوگیانی، بر یک پوستهٔ امنیتی حمله کرده اند.

وی افزوده است که در این حمله، ۱۳ سرباز امنیتی کشته شده و سه تن دیگر جراحت برداشته اند، که از جمله کشته شده‌گان، هفت تن سربازان اردوی ملی و متباقی منسوبین پولیس اند.

نوری اظهار داشته است که در این حمله، شش طالب مسلح نیز کشته شده؛ اما پوسته بعد از سقوط از سوی طالبان آتش زده شده است.

به اساس گفتهٔ او، طالبان مسلح دوشنبه شب بر ولسوالی مالستان نیز حمله کرده؛ اما با مقاومت شدید پولیس مواجه شده اند.

موصوف گفته است که در درگیری های خوگیانی و مالستان، ۲۲ طالب مسلح کشته و ۱۵ تن دیگر زخمی شده اند.

از سوی دیگر؛ ذبیح الله مجاهد سخنگوی طالبان مسلح ادعا میکند که در این درگیری، ۱۸ سرباز امنیتی کشته و شماری دیگر زخمی شده اند.

وی در مورد تلفات افراد خود چیزی نگفته است.


if You Can Think It, We Can ink it.
غوره کیفیت او چټک خدمات
په وایګل چاپ کې تجربه کړئ!
WAYGAL Printing Co.
وایګل چاپ
+93 (0) 77 55 22 677, +93 (0) 782 98 9696
+93 (0) 202512626
Dehbori Crossroads in Front of Park Kabul
waygalprinting.co@gmail.com

## دریـــغ

### په اروزګان کې ستونزه څه ده؟

د اروزګان په خاص اروزګان ولسوالۍ کې د جګړو له امله ګڼو خلکو ته مرګ ژوبله اوښتې او سلګونه کورنۍ بې ځایه شوې دي. جګړه له هغه وروسته پیل شوه چې په سیمه کې د ناقانونه وسله والو یوې ډلې د کندلانو پر کلي برید وکړ. ددې پېښې په تړاو نظرونه بېلابېل دي، څوک یې د خلکو او طالبانو جګړه ګڼي، څوک یې د خلکو او ناقانونه وسله والو جګړه ګڼي او څوک ورته د قومي جګړې نوم ورکوي. په اروزګان کې ددې جګړې اصلي واقعیت څه دی او دا ستونزه څنګه حل کېدای شي؟
د خاص اروزګان اوسنۍ جګړې اوږده ریښه لري او ددې ستونزې زړې کلونه وړاندې کرل شوي دي. له څو کلونو راهیسې داسې مستند رپوټونه خپرېږي چې په اروزګان کې د حکیم شجاعي په نامه د ناقانونه وسله والو ډلو یو قوماندان هلته جرمونه او جنایتونه کوي. یوازې کورنیو رسنیو او بنسټونو نه، بلکې نړیوالو رسنیو او د بشري حقونو سازمانونو د حکیم شجاعي او د هغه د وسله والو د جنایتونو په اړه مستند رپوټونه خپاره کړل. له دې ټولو رپوټونو سره سره حکومت د حکیم شجاعي پر وړاندې هېڅ ګام پورته نه کړ. آن داسې رپوټونه هم خپاره شول چې حکیم شجاعي حکومتي ملاتړ لري. که څه هم حکومت دا رد کړې وه چې د شجاعي ملاتړ کوي، خو په حکومت کې ځینې کړۍ او اشخاص وو او شته چې د شجاعي ملاتړ یې کاوه او لا هم پر خپل دریځ ولاړ دي. ویل کېږي چې حیکم شجاعي تر دوو سوو پورې بې ګناه وګړي وژلي، ښځې، ماشومان، سپین ږیري او نور بې ګناه وګړي د هغه د جنایتونو قرباني دي. د کورونو سوځول، لوټل او آن د خلکو پر عزت تېری د هغه د جنایتونو یوه برخه وه. د اروزګان خلکو بیا بیا د دغو جنایتونو په اړه غږ پورته کړ، کابل ته راغلل او دلته یې چارواکو ته خپل غږ ورساوه، خو هېڅ هم ونه شول. د دغه کار پایله دا شوه چې د اروزګان خلک ورو ورو له حکومت څخه لرې شي او اوس د اروزګان لویه برخه د وسله والو مخالفینو تر کنټرول لاندې ده.
تازه جګړې او نښتې هم له هغه وروسته شوې چې شجاعي د کندلانو په کلي کې جنایتونه کول او له یوه کور څخه یې په زوره د ښځې د بېولو هڅه کوله. په دغه وخت کې کلیوالو مقاوت کړی. له دې امله چې خلک بې وسلې او بې وسه دي او په سیمه کې حکومت نشته او یا یې مرسته نه کوي، نو خلکو د دفاع لپاره له وسله والو طالبانو مرسته غوښتې ده. وسله والو طالبانو د خلکو مرستې ته وردانګلي او اوږده جګړه شوې ده. اوس هم دا جګړه ختمه شوې نه ده او ډېر خلک له خپلو کورونو بې ځایه شوي دي.
په اروزګان کې د ستونزو ریښه معلومه ده او هغه د حکیم شجاعي او د هغه د ناقانونه وسله والو جنایتونه او پر وړاندې یې د حکومت سکوت دی. له همدې امله ستونزه زیاته شوې ده. اوس چې ولسمشر پلاوی ټاکلی، پلاوی باید بې پرې څېړنې وکړي او واقعیت را ښکاره کړي. که حکومت رښتیا غواړي چې د اروزګان ستونزه حل شي او هلته د قومي ستونزې مخه ونیسي، نو پکار ده چې د پلاوي د رپوټ له اورېدو وروسته هلته د ناقانونه وسله والو پر ضد جدي ګام پورته کړي او د خلکو ځان، مال او عزت خوندي کړي.

# د افغان سولې په اړه د سیمه ییزې همکارۍ اړتیا

د ستراتیژیکو او سیمه ییزو څېړنو مرکز

که څه هم د افغان سولې په برخه کې د امریکا وروستي ګامونه تر یوه بریده هیله بښونکي دي؛ خو په ورته وخت کې بیا په دې پروسه کې د سیمې د هېوادونو رول هم له پامه نه شي غورځول کېدای.
د تېرو ۱۷ کلونو جګړې ته په کتلو سره داسې ښکاري چې په دغه هېواد کې د سولې او ثبات لپاره په سیمه کې د ځواکمنو هېوادونو همکاري او ښېکېلتیا هم یو اړین ګام دی.
روسیه د سیمې او نړۍ په کچه هغه زبرځواک ګڼل کېږي چې په وروستیو کلونو کې یې د افغانستان اړوند قضیو کې یو ځل بیا لېوالتیا زیاته شوې ده. دغه هېواد له طالبانو سره هم اړیکې جوړې کړې دي او ظاهراً ښیي چې د افغان سولې خبرو د پیل په موخه د طالبانو د چمتو کولو هڅه کوي.
دا چې په افغانستان کې د سولې په تړاو، کومو برخو ته د ډېرې پاملرنې اړتیا ده، په افغان سوله کې د سیمې د هېوادونو رول ولې مهم دی او په دې اړه د مسکو ناسته څومره مهمه او اغېزناکه بریښي؟ هغه پوښتنې دي چې دلته یې د ځوابولو هڅه شوې ده.

**د افغان سولې پر وړاندې درې ګوني خنډونه**

افغان حکومت له تېرو څو کلونو راهیسي له طالبانو سره د سولې د خبرو د پیل په موخه هڅې کوي. په دې برخه کې په مختلفو ډولونو د سیمې او نړۍ په کچه پر طالبانو د فشار راوړلو هڅې هم وشوې، ترڅو طالبان له افغان حکومت سره د سولې مخامخ خبرو ته په یو ډول اړ کړل شي؛ خو تر دې دمه یې د پام وړ لاسته‌راوړنه نه ده لرلې.
دا چې د سولې په باب ترسره کېدونکې هڅې مثبې پایلې ولري، اړتیا ده چې په ملي، سیمه‌ییزه او نړیواله کچه د لاندې دریو خنډونو له منځه وړلو لپاره هلې ځلې وشي:
لومړی؛ په افغانستان کې د سولې د ټینګښت پر وړاندې پر ګڼو نورو خنډونو سربېره د هېواد دننه، له سولې سره د یو شمېر اشخاصو او کړیو، پټ او ان ډېر کله ښکاره مخالفت یو ستر خنډ بلل کېږي، چې تر دې دمه یې د جګړې په دوام کې رول لرلی دی.
دا ډول کسان او کړۍ خپلې ګټې د جګړې په دوام کې خوندي ګڼي او بالعکس د سولې په راتګ کې خپل زیان ګوري، له همدې امله تل په یوه او بل ډول د جګړې اور ته پکه وهي؛ خو سولې ته د رسېدو په موخه اړتیا ده چې دغه شان کسان یا د سولې په پروسه کې د همکارۍ په موخه وهڅول شي او یا هم د هر ډول خنډ جوړولو پر مهال د دوی مخه ونیول شي. په دې توګه لومړی ګام په هېواد کې دننه د سولې د مخالفینو پر وړاندې درېدل دي.
دویم؛ د افغانستان ګاوندي هېوادونه، په ځانګړې توګه پاکستان او ایران هغه دوه هېوادونه دي، چې تل په افغانستان کې پر لاسوهنو تورن دي. افغان حکومت تل پر پاکستان له دې امله نیوکې کوي، چې د افغان دولت مخالفو وسله‌والو ډلو ته یې په خپله خاوره کې ځای ورکړی دی. دغه راز په ایران هم وخت ناوخت د افغان دولت له مخالفو وسله‌والو سره د همکارۍ تورونه لګېدلي دي.
د افغانستان د قضیې په تړاو د ګاونډیو هېوادونو اندېښنې او د سولې په برخه کې یې د رښتینې همکارۍ نشتون، د سیمې په کچه د دې پروسې پر وړاندې مهم خنډ بلل کېږي. په ټولیز ډول د افغانستان ټول ګاونډي هېوادونه او په تېره بیا پاکستان، ایران او چین د افغانستان هغه درې مهم ګاونډي هېوادونه دي چې کولی شي له دغه هېواد سره سولې ته د رسېدو په برخه کې مرسته وکړي. په دې توګه اړتیا ده چې د ګاونډیو هېوادونو د مرستې راجلبولو او د هغوی د اندېښنو ځوابولو لپاره هلې ځلې وشي؛ ځکه د دغو هېوادونو رول له پامه نه شي غورځول کېدای.
دریم؛ په وروستیو څو کلونو کې په ځانګړې توګه له ۲۰۱۴م کال راوروسته د اوکراین د بحران په څېر او ورپسې په سوریه کې د امریکا او روسیې مخالفت هغه څه ګڼل کېږي چې د روسیې او لوېدیځ ترمنځ یې یو ځل بیا سړه جګړه راپیل کړه. په وروستیو کې داسې ښکاري چې د واشنګټن او مسکو ترمنځ د نوي سړې جګړې اغېزې تر افغانستانه هم راغځېدلې دي. له همدې کبله داسې ښکاري چې افغانستان د نړیوالو زبرځواکونو د زور ازمویلو پر ډګر بدل شوی او ترڅو چې د افغانستان په قضیه کې د سیمې او نړۍ په کچه د ځواکمنو هېوادونو ترمنځ د نیابتي جګړو پر ځای همکارۍ ته لاره هواره نه شي، د سولې پروسه به هم پام وړ پایله ونه لري.

**د سیمې د هېوادونو همکاري ولې مهمه ده؟**

په افغانستان کې د امریکا له حضور سره اوسني ځینې مخالف هېوادونه په ۲۰۰۱م کال پر افغانستان د امریکا د برید پلوي وو او د طالبانو د رژیم د ړنګېدو په موخه یې د امریکا د برید مخالفت ونه کړ. په دې ډله کې روسیه هغه هېواد و چې له ۲۰۰۱ کال وروسته یې د ملګرو ملتونو د امنیت شورا له پرېکړې سره سم، په افغانستان کې د امریکا او ناټو له اقداماتو ملاتړ او ورسره همکاري کوله؛ خو له نږدې یوې‌نیمې لسیزې وروسته یې، په ځانګړې توګه کله چې په افغانستان کې د داعش ډلې سر راپورته کړ، دغه هېواد په لومړي ځل افغانستان ته له خپلې خاورې تېره شوې د ناټو اکمالاتي لاره د ۲۰۱۵ کال په مې میاشت کې بنده کړه او په دې توګه د دواړو هېوادونو مخالفت افغانستان ته هم راولېږدېده.
له دغه مخالفت راوروسته ډېر ځله داسې راپورونه ورکړل شوي، چې روسیه له طالبانو سره نظامي مرستې کوي؛ خو روسیې تل د نظامي مرستو تورونه رد کړي او له طالبانو سره یې خپلې اړیکې په افغانستان کې د داعش ډلې له پراختیا وېره، په افغانستان کې د روسي دیپلوماتو خوندیتوب او له افغان حکومت سره د سولې خبرو ته د طالبانو په چمتو کولو کې د مرستندوی رول لوبولو سره، توجیه کړې دي.
دا چې اوس‌مهال امریکا له طالبانو سره د مخامخ خبرو د پیل هڅې پیل کړې او غواړي روانه جګړه د خبرو له لارې پای ته ورسوي، په اوسني وخت کې د روسیې ښکېلتیا که له یوې خوا له پامه نه شي غورځول کېدای، نو له بلې خوا به مثبتې اغېزې هم ولري؛ ځکه له یوې خوا روسیه د اوسنۍ نړۍ د زبرځواکونو په کتار کې ده او له بلې خوا یې له طالبانو سره اوسنۍ اړیکې او تر یوه بریده جوړ شوی باور د دې لامل کېږي، چې د سولې په خبرو کې د پام وړ همکاري وکړي.
دا چې څه ډول کېدای شي د سیمې هېوادونه په رښتیني توګه په افغانستان کې د سولې د ټینګښت لپاره همکاري وکړي، اړتیا ده چې امریکا په افغانستان کې د خپل حضور په اړه روښانه تصویر وړاندې کړي، ترڅو کومه وېره چې دغه هېوادونه یې په افغانستان کې د امریکا د اوسني حضور په تړاو لري، له منځه یووړل شي.

**د مسکو ناسته**

نږدې دوه میاشتې وړاندې ټاکل شوې وه، چې مسکو د سپټمبر په ۴مه د افغانستان د سولې په اړه د یوې غونډې کوربه‌توب وکړي. که څه هم د رویټرز خبري آژانس له قوله طالبانو په دغه غونډه کې د خپلو استازو د ګډون خبر ورکړی و؛ خو امریکا او افغان دولت له دې کبله د دې غونډې مخالفت وکړ چې کوربه‌توب یې د روسیې په غاړه و. هغه مهال بیا دغه غونډه د افغان ولسمشر او روسیې د بهرنیو چارو وزیر ترمنځ له ټلیفوني خبرو وروسته وځنډېده او ټاکل شوې په راتلونکو ورځو کې جوړه شي.
په مسکو کې د افغان سولې په اړه غونډه په دغه پروسه کې د روسیې لېوالتیا او د همکارۍ شونتیا ښیي. په ټولیز ډول، افغان حکومت هم دې پایلې ته رسېدلی، چې په دې قضیه کې د روسیې له رول څخه سترګې نه شي پټېدای او له همدې کبله داسې ښکاري چې افغان حکومت به هم د سولې په برخه کې د روسیې رول ته پاملرنه وکړي او ښایي په یاده غونډه کې به ګډون وکړي.
له بلې خوا په افغانستان کې له تېرو ۱۷ کلونو را روانې جګړې د دې جګړې ټول لوري ستړي کړي دي. ځکه په وروستیو کې د سولې بهیر داسې یوه حالت ته رسېدلی چې ښکاري پر افغان حکومت سربېره امریکا هم په رښتیني توګه د سولې لپاره هڅې کوي او دا چې په دغه بهیر کې د روسیې ګټې هم نغښتې دي، هڅه یې دا ده چې روانه جګړه نوره پای ته ورسېږي.
په ټوله کې ویلی شو چې د افغان سولې په اړه وروستۍ هڅې هیله بښونکې دي. ځکه په دې لړ کې د امریکا له لوري زلمي خلیلزاد د افغانستان په ګډون پنځو هېوادونو ته سفر وکړ، نوموړي د افغانستان او پاکستان دننه د افغان سولې لپاره د همکارۍ راجلبولو هڅې وکړې، په پاکستان کې ملا برادر او دوه نور طالب چارواکي له بنده خوشې شول، دغه راز د ګوانتنامو له زندانه څو کاله وړاندې خوشې شوي پنځه طالب چارواکي هم په قطر کې د طالبانو له سیاسي دفتر سره یو ځای شول. له همدې کبله به په اوسني وخت کې یو مهم ګام دا وي، چې د افغان سولې بهیر د بریا لپاره د ګاونډیو او سیمې هېوادونو رول نه یوازې دا چې له پامه ونه غورځول شي، بلکې د هغوی له ښکېلتیا څخه مثبته ګټه واخیستل شي.

## د لوی کندهار اوسېدونکو ولسمشریزو ټاکنو ته د شیدامحمد ابدالي پر نوماندۍ هوکړه وکړه

د کندهار یو شمېر قومي مشرانو په یوې غونډه کې د ولسمشرۍ د راتلونکو ټاکنو لپاره د ډاکتر شیدا محمد ابدالي پر نوماندۍ هوکړه وکړه.
دغه غونډه پرون د کندهار ښار په عینو مېنه کې جوړه شوې وه.
غونډې ته د کندهار ولایتي شورا رییس حاجي سید جان خاکرېزوال وویل، د لوی کندهار مخورو له پر له پسې ناستو او مشورو وروسته پرېکړه کړې چې د ولسمشرۍ راتلونکو ټاکنو ته ډاکټر شیدامحمد ابدالي د نوماند په توګه وړاندې شي.
هغه زیاته کړه، په همدې موخه د ولس غږ په نوم د قومي مخورو یو کمېسیون جوړ شوی چې په دې اړه به د کندهار ترڅنګ په نورو ولایتونو کې هم لویې غونډې وکړي او د خلکو ملاتړ به وغواړي.
د غونډې یوه بل ویناوال تورن نیک محمد وویل، لوی کندهار د افغانستان د مشرتوب



ادرس دی او ټول یې باید ملاتړ وکړي.
ده یادونه وکړه چې دا د کندهار د مخکیني امنیه قوماندان جنرال عبدالرازق هیله هم وه او په دې برخه کې یې له څو میاشتو راهیسې کار کړی و.
د کندهار د ولایتي شورا غړي نعمت الله شېردلي هم وویل چې دغه پرېکړه د ولس غږ کمېسیون له خوا شوې او دوی ټول له شیدامحمد ابدالي ملاتړ کوي.
د نقیب الله خان په نوم د اروزګان ولایت اوسېدونکي وویل، پر شیدامحمد ابدالي غږ کوي چې د لوی کندهار د خلکو غوښتنه ومني او ځان د ولسمشرۍ راتلونکو ټاکنو ته چمتو کړي. د کندهار د ژېړۍ ولسوالۍ یوه مشر عبدالباقي نورزي بیا له پخواني ولسمشر حامد کرزي څخه وغوښتل چې خلک ور وغواړي او په یوه لویه غونډه کې د شیدامحمد ابدالي ملا وتړي.
هغه دغه راز غوښته وکړه چې له لوی کندهاره دې همدا یو کاندید وي او د متعددو کاندیدانو مخنیوی دې وشي.
د جمعه ګل اسحاقزي په نوم یوه مشر بیا وویل چې د کندهار دوو مشرانو شاه ولي کرزي او جنرال عبدالرازق په ګډه پر دې موضوع کار کړی، څو شیدامحمد ابدالي د ولسمشرۍ په راتلونکو ټاکنو کې د نوماند په توګه وړاندې شي.
د ده په خبره، دغو دوو مشرانو په دې اړه تر کابل او شمال پورې له سیاسیونو او مخورو سره خبرې او مشورې هم کړې وې.
غونډې ته څو ځوانانو هم خبرې وکړې او ویل یې چې مشرانو پر شیدامحمد ابدالي توافق کړی او دوی ته هم د منلو وړ دی.
ډاکتر شیدامحمد ابدالي شاوخوا شپږ کاله په هند کې د افغانستان سفیر و او دغه راز د حامد کرزي د حکومت پر مهال د امنیت شورا مرستیال پاتې شوی او یو شمېر نورې دندې یې هم ترسره کړې دي.
نوموړی په دې وروستیو کې له خپلې دندې تر استعفا وروسته کندهار ته تللی او هلته یې له خلکو سره لیدنې کتنې پیل کړې دي.

# په حکومت کې د عقدو پالل د سولې پر وړاندې یو بل خنډ



رفیع الله زیار

په ملي وحدت حکومت کې ځینې لوړپوړي چارواکي د ملي ګټو د خوندي کولو، د اوسني بد حالت د بهبود لپاره د ګډو هڅو او د سولې د بریالي کېدو په برخه کې د یوه همغږي حرکت د رامنځته کولو پر ځای دننه په حکومت کې خپلې شخصي عقدې پالي او په ډېرو وړو مسایلو باندې بوخت دي چې دا ډول کړنې نه یوازې د هېواد په زیان دي، بلکې د سولې پر وړاندې خنډ او یو بل بحران ته لار هواروي.

له تېرو څلوېښتو کلونو راهیسې په هېواد کې د نورو په اشاره او د پردیو ګټو د خوندي کولو لپاره یوه اوږده جګړه روانه ده چې د سون توکي یې افغان زلمي، ښځې، ماشومان، بوډاګان او نور دي، خو ګټه یې یوازې هغه چاته رسېږي چې ددې جګړې د غځېدو اصلي لوبغاړي دي او دلته خپلې شومې او ناوړه برنامې تطبیقوي.

سره له دې چې د همدې جګړو او یرغلونو له لاسه ګڼ افغانان مهاجر شول، زموږ خویندې او میندې لوڅ سرونه سوال ته مجبورې شوې او د نورو په ښارونو کې یې پردیو ته د سوال لمنې وغوړولې، زموږ افغاني غرور او ارزښتونه تر پښو لاندې شول، بنسټونه مو ونړېدل، بشري قوه مو پایمال شوه، علما مو بې عزته شول، د نوم خلک مو د دوو پیسو شول او داسې نورې ډېرې نادودې چې باید نه وای شوې، وشوې، خو بیا هم زموږ سیاسیون او چارواکي له دې څخه پند نه شي اخیستلی او لا ددې ظرفیت نه لري تر څو هېواد له اوسني بد حالت څخه را بهر کړي او د جګړې لمن ورټوله کړي.

اوسنی نظام له تېرو اوولسو کلونو راهیسې زموږ د هغو زلمیو په وینو پایبږي چې د امنیتي ځواکونو په لیکو کې جنګیږي او په دې ډول سره د افغانستان له ننګ، ناموس او غرور څخه دفاع کوي، خو ددې دفاع او د هېواد د بقا لپاره قوي مدیریت، د بنسټونو تقویه کولو، د سیمه ییزې او نړیوالې دیپلوماسۍ او سیاست لا غني کولو، قوي اقتصاد او دننه په هېواد د هر ډول توطیو د شنډولو لپاره یوه غښتلي او یو موټي حرکت ته هم اړتیا ده او ددې لپاره باید کار وشي.

دلته زموږ د بحث موضوع دا نه ده چې په هېواد کې کومې کړۍ له وسله والو طالبانو سره د سولې خنډ دي؟ طالبان د سولې په تړاو څه دریځ لري؟ نړیوال او سیمه ییز قدرتونه په دې برخه کې څومره رښتیني دي؟، بلکې هغه چارواکي مو هدف دي چې د حریف د کمزوري کولو لپاره د عقدوي چلند پر اساس د سولې پروسه ټکنۍ کوي او پر وړاندې یې یو عالم ستونزې ایجادوي.

که چېرې موږ او زموږ سیاسیون غواړي چې په هېواد کې د جنګ کرغېړنه څېره ورکه شي او پر ځای یې سوله حاکمه شي، همدا راز هېواد د چټکې ترقۍ پر لور قدمونه واخلي، نو په کار ده چې خپل منځي واړه اختلافات یوې خواته کړي او د ګډو ګټو د خوندي کولو لپاره یو او بل حمایه کړي تر څو زموږ راتلونکي نسل ته د هوسا ژوند کولو زمینه برابره شي. بیا هم یادونه کوم، که چېرې یو شمېر چارواکي له خپلو مقامونو او دولتي امکاناتو څخه په عقدو پاللو کې ګټه پورته کوي، نو دا لویه تېروتنه ده او دغه تېروتنه به ده ته هم یو ورځ بلا ګرځي او په هغه برخلیک به اخته کېږي چې عام افغانان ورسره لاس او ګرېوان دي.

# پر ایران د امریکا بندیزونه پیل شول، خو د چابهار برخلیک لا هم ګونګ دی



پر ایران پرون د امریکا پراخ بندیزونه پیل شول. له دغه هېواد سره که څه هم د افغانستان ټوله سوداګري یو میلیارد ډالرو ته رسېږي، خو د هند په ملګرتیا یوه ګډه درې اړخیزه لویه پروژه هم لري چې د جوړولو چارې یې په ۲۰۱٦ میلادي کال کې پیل شوې. د چابهار بندر پروژه چې هند د ایران له لارې افغانستان او منځنۍ اسیا سره وصلوي او بالعکس افغانستان هم اوبو ته لار پیدا کوي.

په ایران باندې د امریکا د بندیزونو له پیل سره د دې لویې درې هېوادیزې پروژې برخلیک لا هم ګونګ دی.

ولسمشر محمد اشرف غني وړمه شپه په همدې پروژې د امریکا د بندیزونو د اغېزو د څرنګوالي په اړه د مرکزي او جنوبي اسیا په چارو کې د امریکا د بهرنیو چارو له مرستیالې وزیرې الیس وېلز سره خبرې کړې دي.

ارګ په همدې تړاو یوه خبرپاڼه کې ویلي: «د پرونۍ او په همدې ارتباط د پخوانیو ناستو نتیجې به چې د افغانستان د اقتصاد لپاره ښې پایلې ولري، ژر له خلکو سره شریکې شي.»

الیس وېلز د سپټمبر په ۱۲مه په یوه بحث کې ویلي وو چې د چابهار بندر په اړه به دوی څېړنې کوي چې څومره د افغانستان د ثبات لپاره مهم دی.

وېلز زیاته کړې وه: «لکه څنګه چې موږ د چابهار د بندر موضوع څېړو، دا به یې په چوکاټ کې وي چې د افغانستان د ثبات لپاره او یا د سیمه ییز اتصال لپاره چې نورې ګټې هم پکې نغښتې دي څه کولای شي. دا د بیا کتنې یوه روانه پروسه ده.»

وېلز هغه وخت دا ډاډ هم ورکړ چې د بندیزونو هدف د متحدینو ځپل نه، بلکې د ایران د «بدې» رویې بدلول دي.

اقتصادي کارپوهان هم ډاډه دي چې د امریکا بندیزونه به یوازې پر ایران وي او تېر ته په کتو به د افغانستان په برخه کې د امریکا له خوا کومه خاصه ستونزه نه وي.

د افغانستان بانک پخوانی مرستیال او اقتصادي کارپوه خان افضل هډه‌وال ازادي راډیو ته ویلي: «پخوا هم دغسې چې د اوباما په وخت کې بندیزونه لګېدلي وو، ځینې برخې یې د افغانستان لپاره مستثنی شوې وې، دې کې شک نه شته. د افغانستان تجارت که په چابهار کې موږ تر بحث لاندې ونیسو، افغانستان خو چابهار د یوه بندر او یو ساحل په توګه استفاده کوي، نو دا برخه په دې کې نه شاملېږي. پر چابهار بندیز به داسې نه وي چې څوک به دا ساحل ونه شي کارولای. دا بندیز به په دې اړه وي چې د ایران له کښتیو او د دوی له تجارتي مالونو د استفاده ونه شي.»

د امریکا د بهرنیو چارو وزیر مایک پامپیو فاکس نیوز ته ویلي، پر ایران لګول کېدونکي بندیزونه به تر ټولو سخت وي: «زه ډېر ډاډه یم، کوم بندیزونه چې همدا دوشنبه لګول کېږي، نه یوازې په تېلو، بلکې په هغو ٦۰۰ اشخاصو او کمپنیو چې د امریکا خزانې وزارت پېژندلي د ایران د رژیم د رویې په بدلولو کې به د هدف وړ اغېز وکړي.»

پامپیو زیاته کړې، یوازینی هدف دا دی چې په نړۍ کې د ترهګرۍ د لوی تمویلوونکي دولت د کارونو مخه ونیول شي .

## سعودي او متحدین یې:

# د یمن د کړکېچ پای ته رسولو ته ژمن یو



سعودي عربستان او متحدانو یې یوه ورځ وروسته له هغه چې په یمن کې د بشري مرستو د رسولو په مهم بندري ښار حدیده کې نوي پوځي عملیات پیل کړل، ویلي چې د یمن د کړکېچ پای ته رسولو ته ژمن دي.

سعودي عربستان او متحدان یې په ۲۰۱۵ میلادي کال کې د یمن په جګړه کې د دې لپاره ښکېل شول چې د دغه هېواد په شمال کې د شیعه حوثي یاغیانو پرضد مبارزه کې د ولسمشر منصور هادي دریځ پیاوړی کړي.

د سعودي په مشرۍ ائتلاف د پنجشنبې په ورځ له حوثي یاغیانو څخه د سرې بحیرې پر غاړه د پراته ښار حدیدې د نیولو لپاره، چې ستراتیژیک اهمیت لري، پوځي عملیات پیل کړل.

د دغه ائتلاف یوې سرچینې د نوم د نه ښودلو په شرط فرانس پرېس خبري اژانس ته ویلي چې په حدیده کې روانه جګړه پوځي عملیات نه، بلکې هدف دا دی چې د دغه ښار د تجارتي بندر فعالیت یقیني شي.

سرچینې زیاته کړې چې ائتلاف په یمن کې د کړکېچ د کمولو په مقصد د ملګرو ملتونو د ځانګړي استازي کلک ملاتړ کوي.

د یکشنبې په ورځ د دغه ائتلاف الوتکو د حکومت پلوو ځواکونو په ملاتړ لسګونه ځلې بمباري وکړې، څکه د جګړې لومړۍ کرښه د حدیدې ښار ختډو ته ډېره نږدې شوې او د مخالف لوري ځواکونه د دغه ښار د مرکزي پوهنتون خوا ته د پرمختګ په حال کې دي.

د روغتونونو چارواکي وایي چې په دې جګړو کې لسګونه سرتېري او مخالف وسله وال وژل شوي دي.

په سپټمبر کې د سعودي په مشرۍ ائتلاف په جنیوا کې د ملګرو ملتونو په نوښت د سولې د خبرو په درشل کې خپل پوځي عملیات بند کړي وو، خو د سولې هڅې وروسته له هغه ناکامې شوې چې وسله والو یاغیانو وویل، جنیوا ته به تر هغه وخته ولاړ نه شي چې ملګري ملتونه صنعا ته د دوی د ستنولو او له سیمې څخه د دې ډلې د ټپي جنګیالیو د را ایستلو ضمانت ونه کړي.

د سعودي په مشرۍ د ائتلاف چارواکو ویلي چې که حوثي یاغیان یوځل بیا د سولې په خبرو کې له ګډون څخه ډډه وکړي، نو هغه مهال به یې پرضد پوځي عملیات وکړي.

چارواکي زیاتوي چې په یمن کې بشري حالت د زغملو وړ نه دی او ائتلاف ژمن دی چې دا کړکېچ ژر تر ژره پای ته ورسوي.

## د کتـــاب خبـرې

# د رهبرۍ اړينې ځانګړنې

### ۲۱ هغه ځانګړتياوې چې يو غوره رهبر يې حتماً ولري

◎ ليکوال: جان مکسوېل
◎ ژباړن: ميـراحمد يـاد

**دولسمه ځانګړنه**
**هيجان:**



**اوس د شوق په اړه څلورو حقايقو ته پام وکړئ چې د رهبر په توګه تاسې ته څه کولای شي:**

**۱) شوق د بري لومړی ګام دی**
ستاسې برخليک ستاسې شوق او غوښتنه ټاکي. که لويو رهبرانو ته ځير شئ، د هغوی له شور او شوقه به اغېزمن شئ، لکه له ګاندي سره د بشري حقونو شوق و، له چرچل سره د آزادۍ شوق و، له مارتين لوتر کينګ سره د مساواتو شوق و او له بيل ګېټس سره د ټکنالوجۍ شوق و.
هر څوک چې له عادي کچې لوړ ژوند غواړي، ډېر زيات شوق او لېوالتيا هم لري. دا خبره په هره برخه کې صدق کوي: هر څومره چې ستاسې د شوق د اور لمبه تېزه وي، هومره به تاسې ډېر غواړئ او همدومره به مو د بري امکانات ورسره زياتېږي.

**۲) شوق مو هوډ قوي کوي**
وايي چې يوه ورځ بې شوقه او مړاوی ځوان سقراط ته ورغی او ورته وېې ويل: (ای سقراطه، زه راغلی يم چې له تا څه زده کړم.)
سقراط زلمی هلک د سيند غاړې ته بوته او دېرش ثانيې يې د ده سر په اوبو کې ډوب کړ. ببرته چې يې د هغه سر له اوبو راوويست ورته وېې ويل: څه چې دې غوښتل هغه بيا تکرار کړه.
زلمي ورته وويل: (زه غواړم چې څه زده کړم.)
سقراط بيا د هلک سر اوبو ته ښکته کړ او دا ځل يې لږ ډېر وخت په اوبو کې ډوب کړ. دا کار چې يې څو څو ځله تکرار کړ، نو سقراط ترې پوښتنه وکړه: (څه غواړې؟) د هلک ساه لنډه شوې وه، په سوې ساه يې وويل، ساه اخيستل غواړم، ساه ساه!
سقراط ورته وويل: (ډېر ښه! هر وخت چې دې علم، پوهې او زده‌کړې ته هم د ساه هومره اړتيا پيدا کړه، وبه يې مومې.)
د شوق بدل نشته، شوق زمونږ هوډ پخوي، څه چې د زړه له تله په پوره شوق وغواړې ترلاسه کولای يې شې. خپلو اهدافو او غوښتنو ته د رسېدو يوازينۍ لار ورسره ډېره زياته مينه او شوق دی.

**۳) شوق تاسې بدلوي**
که د نورو خلکو د خوښې او فرمايشاتو پر ځای له خپل شوق او لېوالتيا سره سم مزل وکړئ، نو لا ډېر مخلص او مؤلد انسان به شئ، دا چاره پر نورو ستاسې اغېز زياتوي، بله دا چې ستاسې شوق به مرسته وکړي چې نور خلک ستاسې له شخصيته ډېر زيات متأثر شي.

**٤) شوق «ناشوني» شوني کوي**
انسان داسې جوړ شوی دی چې که د شوق اور پکې پيدا شو، نو ناممکن او ناشوني ټول سوځوي. شوق په ژوند کې هر څه بدلوي. په همدې خاطر شوق او شور لرونکي رهبران تر ډېره اغېزناک وي. کوم رهبر چې شور او شوق لري، هغه تل تر هغه تکړه رهبره ښه دی چې شور او شوق يا جذبه نه لري.

**پر دې فکر وکړئ**
د شوق قوت ته په کتو، زمونږ په کلتور کې داسې فکر خپور شوی دی چې د شور او شوق يا جذبې موضوع سره بايد احتياط وشي. توني کامپولو ټولنپوه وايي: (مونږ په داسې شرايطو کې اوسېږو چې نه يوازې ماده پرست يو، بلکې تر دې بد داسې انسانان يو چې احساس مو هم مړ شوی دی. نه سندره شته، نه نڅا شته... تر دې چې ګناه هم رانه نه کېږي!) آيا ستاسو په ژوند کې شور او شوق شته؟ سهار ښه په شوق او مستۍ له خوبه را پاڅېږئ؟ آيا د اونۍ لومړۍ ورځ مو د خوښې ورځ ده؟ که نه، له يوې رخصتۍ تر بلې کار کوئ، کور، دفتر او تکراري ژوند کوئ؟ په وروستي ځل کومه ورځ نوې مفکورې ته دومره هيجاني وئ، چې خوب نه وي درغلی؟
که شور او شوق مو د ژوند برخه نه وي، نو د رهبر په توګه به له ستونزو سره مخ يئ. حقيقت دا دی چې ترڅو په يو کس يا يو شي ښه په شوق پام ونه کړئ، تر هغې يې رهبري هم نشئ کولای. ترڅو چې په تاسې کې پټ اور را ښکاره نشي، تر هغې پورې په سازمان کې اور نشئ بلولئ.

**د رسېدو لار**
**په ځان کې د شور او شوق زياتولو لپاره لاندې کارونه وکړئ:**
- خپل شوق وسنجوئ. له ژوند او کار سره څومره شوق لرئ؟ آيا ستاسې شور او شوق ځان ښيي؟ د خپل ژوند له ملګري/ملګرې يا همکارانو نه په دې اړه پوښتنه وکړئ چې تاسې له خپل کار او ژوند سره څومره شوق لرئ، هغوی ته ښه معلومېږي. ترڅو په دې پوه نشئ چې شور او شوق ستاسې په ژوند کې څه ونډه لري، تر هغې ورته رسېدلی هم نه شئ.

**دوام لري...**

# علاوالدين غلجي

حکمت ارين



جلال الدين په زابل کې زيږېدلی او د سلطان معزالدين کيقباد په وخت کې د هغه د پوځونو لوی درستيز و. سلطان معزالدين کيقباد په دغه وخت کې فلج شوی و، خو وروسته درباريانو د ده درې کلن زوی کيو مرث پاچا وټاکه، خو د سلطان جلال الدين پوځونو کيقباد بې وسلې کړ، کيقباد يې وواژه او مړی يې په سيند کې وغورځاوه.
تر دې وروسته چې سلطان جلال الدين غلجی د هندوستان واکمن شو، نو تر ټولو مخکې يې خپل مشر زوی اختيارالدين ته د خان خانان، بل ته د هرکلي خان او خپل کشر زوی ته يې د قدر خان لقب ورکړ. سلطان جلال الدين غلجي خپل کشري ورور ته د پوځي چارو وزارت ورکړ.
د سلطان جلال الدين وراره علاوالدين نومېده.
علاوالدين، په هندوستان کې د غلجيانو د پېر اړوند مسلمان پاچا تېرشوی او هغه مهال چې د ده تره سلطان جلال الدين غلجی پر معزالدين کيقباد باندې بری وموند، نو دی په ۱۲۹۰ ز کال کې په هند کې د سلطنت په ګدۍ کېناست او د امير تزک په نوم يې په ۱۳۰۳ز کال د(چتور) کلا له راتن سنګ نه ونيوله.
سلطان علاوالدين د خپل تره له لور (ملکه جهان) سره لا پخوا واده کړی و.
سلطان علاوالدين هغه څوک و چې د خپل تره سلطان جلال الدين په مرسته يې په بهلسه او دکن کې هم د ډېرو خوځښتونو مخه ونيوله، خو علاو الدين د ځينو نورو اميرانو په سازش سلطان جلال الدين غلجی چې د ده تره و، وواژه او ټول واک يې په خپل لاس کې واخيست.
دا چې ولې هندوان پر نوموړي تورونه لګوي او بد يې ترې راځي، ايا لامل يې د ده افغانيت دی؟
په دې اړه د هند په پلازمينه ممبۍ کې د پوهنتون د تاريخ استاد وايي: علاوالدين لکه څومره چې بد مشهور شوی دی، دومره بد سړی نه و. هغه که دومره بد وای، بيا يې دومره ملاتړي نه شوای موندلی چې دی يې پر مټ دومره ستر واک ته ورسېږي.
دی يو مدبر سړی و بايد درناوی يې وشي. کېدای شي تېروتنې يې کړې وي، خو زما د معلوماتو له مخې چې کروالی يې بيا هم د تاريخ ليکونکو مسووليت دی، دومره ويلی شم چې که هغه بد نه وای، نو دومره به خلکو ترې کرکه نه کوله، ځکه په هند کې خو نور پښتانه واکمنان هم تېر شوي دي چې په اړه يې دومره بد قضاوتونه موږ او تاسې نه وينو. داسمه ده هېڅوک له نيمګړتيا خالي نه دي او دا هم طبيعي ده چې هرڅوک هر ډول څرګندونې کوي، خو موږ بايد دومره بدبين و نه اوسو.
ځينې بيا دومره بد ترې وړي چې نه غواړي د هغه نوم د خپل هېواد له يوې پېغلې سره د مينې په تار هم ياد کړي. ځکه شاوخوا يو نيم دوه کلونه مخکې هندي سينما باليووډ د پدماواتي په نوم يو فلم کې د علاوالدين غلجي پر کيسه فلم جوړ کړ چې ډېری هندوانو يې له خپرېدو سره مخالفت وکړ. د فلم په لومړۍ صحنه جوړولو کې هم د راجپوتانو کرناني پوځ د فلم پر جوړښت بريد کړی و. فلم کې د علاوالدين غلجي او چتوړ د ملکې پدما وتي د تړاو په هکله کيسه کېږي.
د همدې غبرګونونو په وخت کې يو تن اعتراض کوونکي وويل:
که څوک نه غواړي چې موږ له هغه (علاوالدين) نه کرکه وکړو، نو ښه به وي چې په دې فلم کې له هغه سره د يوې هندۍ پېغلې د مينې کيسه وايستل شي. ځکه دا موږ ته شرم دی. هغه واکمن يو ظالم سړی و او کره شواهد شته چې نوموړی يو همجنس خوښوونکی و او له خپل غلام ملک کافور سره يې جنسي اړيکې درلودې، موږ په دې فلم کې د هغه پر کيسه نيوکه لرو، بايد خپور نه شي.

بي بي سي د ياد فلم د خپرېدو پر وخت د غبرګونونو د راپورته کېدو په اړه په هغه وخت کې په خپله يوه ليکنه کې ليکلي چې په دې هکله د پوهېدو لپاره د تاريخ پاڼې کتل غواړي.
کافور په اصل کې د ډېلي د سلطان علاوالدين غلجي د غلامانو پوځي قوماندان و. د تاريخ کتابونو کې راغلي دي چې د غلجي جنرال نصرت خان د ګجرات په يرغل کې ملک کافور ونيو او غلام يې کړ. وروسته يې هغه ته پرمختګ (واک) ورکړ.
د علاوالدين غلجي د پوځي قوماندان په توګه ملک کافور مغولو ته ماتې ور کړه او بيا يې سوېلي هند کې د خپل واکمن د سوبې بيرغ ودراوه. پر دې سربېره ډېرو کتابونو کې د غلجي او کافور ترمنځ د ځانګړو اړيکو په هکله ډېر څه ليکل شوي دي.
په هند کې د ارونيتا او ايس قدوايي په کتاب (هند کې همجنس خوښي) کې راغلي چې ملک کافور د علاوالدين غلجي په پوځ کې له شاملېدو سره هغه ته زرديناری ويل کېده. د دې کتاب له مخې غلجي پر ملک کافور د ملک ناويات (ناياب) نوم کېښود.
شنونکی ضياء الدين باراني د غلجي د وروستيو ورځو په اړه داسې وايي: په هغو څلورو- پنځو کلونو کې چې کله سلطان د خپل يادانښت د ليکلو په اړه ويلي وو، هغه له ملک ناويات سره په ژوره مينه کې ډوب، د حکومت او مامورانو ټول واک يې ور کړی و. يوه غلام ته د دومره واک ورکولو وجه څه وه، کله چې دا پوښتنه را پيدا کېږي، نو يو څه يې حتماً تر شا شته.
خو ډېری تاريخ پوهان بيا دا ډول څرګندونې شک بولي. د پښتنو تاريخ پوهانو په خبره د کافور په اړه د هندوانو څرګندونې له شکونو پرته بل هېڅ هم نه دي. هغه وخت کې دا ډول کېسې ډېرې کېدې او ترې اسطورې جوړېدلې چې له حقيقت نه لرې دي او د سلطان په اړه د هندي وګړو قضاوتونه هېڅ د منلو وړ نه دي.
دوی په هغه وخت کې د مغلو واکمنۍ ته په اشارې، له خوشحال بابا کرکه يادوي او وايي په هغه وختونو کې چې مغل واک کې وو، د هغوی پر وړاندې هم دېته ورته ډېرې څرګندونې کېدې او په اړه يې کرکه ډېره وه. تاريخ ليکونکي يې لامل د قومونو ترمنځ د واکمنانو غير معتدل چلند بولي.
هند کې د مغولو د واکمنۍ په هکله مشهور تاريخپوه هربنس مکيا وايي:
هغه مهال غلامانو ته دومره واک ور کول د حيراني خبره نه وه، ځکه هغه مهال کې د غلام مانا د اوس په څېر نه وه.
تاريخپوه مکيا وايي:
د غلامانو تر ټولو لويه ځانګړنه د هغوی مېړانه وه چې هغه څومره زړور سرتېری او څومره ژمن دی.
کافور کې دا دواړه ځانګړنې وې.
په لندن کې د هندي تاريخ څارونکی پروفيسور فريډ برايډن وايي:
کافور سره د هغه د اړيکو په اړه څه نه شم ويلی، خو دومره ويلی شم چې کافور يو مشهور جنګيالی و چې د غلجي لپاره يې ډېر جنګونه وګټل.
د تاريخ پوهانو په باور د نوموړي په اړه دې هندوانو دا ډول څرګندونې کېدای شي عقديې هم وي، خو وايي، نه کافور همجنس خوښی و او نه هم غلجي هغه سره جنسي اړيکه درلوده.
په هندي فلمونو کې د نوموړي په څېر پر ډېرو هغو کسانو چې د هند نه دي، خو هلته يې واکمنې کړې ده، ورته تورونه لګول کېږي چې د تاريخ ليکونکو په باور ډېری يې له داسې داستاني کتابونو اخيستل کېږي چې له تاريخ سره هېڅ تړاو نه لري.

## اقتصاد

### د اسعارو بیې

| | |
|---|---|
| $ | ۷۵,۵۰ |
| € | ۸۵,۶۰ |
| Rp. | ۵۷۳ |
| ₹ | ۱۰۳۰ |
| ¥ | ۱۰,۸۰ |
| £ | ۹۶,۶۰ |

### پروازونه

| | |
|---|---|
| کابل - هرات | 10:00 |
| کابل - دوبۍ | 16:30 |
| کابل - ډهلي | 10:30 |

Kam Air

| | |
|---|---|
| کابل - هرات | 09:00 |
| کابل - کندهار | 09:00 |
| کابل - ډهلي | 10:00 |

flydubai

| | |
|---|---|
| کابل - دوبۍ | 08:50 |
| کابل - دوبۍ | 14:40 |
| کابل - دوبۍ | 18:15 |

### بیړنۍ شمیرې

پولیس
119 - 100
امبولانس
112
اتاترک روغتون
0202500312
ملالی زیږنتون
0202201377
وزیر محمد اکبر خان روغتون
0202301360
رابعه بلخي روغتون
0202100439

همیانی

# هغه اووه کړنې چې ملا مو ماتوي

ژباړه: امان الله«حنیفي»

کله چې پر لاره تګ کوی، ښه ده چې پر لار د تګ خنډونه مو وپېژنی. هغه څه دي چې پر لاره ستاسې د تګ خنډ ګرځي؟ غواړې چې له کومې بدې پېښې سره مخ شی، ځان او یا بل زیانمن کړئ؟ نه، هېڅکله نه! همدا اصل مو هدف ته د رسېدو پر لار هم ملګری کړئ. هغه څه چې ستاسې او هدف ترمنځ مو خنډ کېږي؛ مخکې له مخکې یې وپېژنئ، هغه څه دي؟ لاندې یې لولو:

۱- وېره

بریا ته د رسېدو پر لار مو وېره لوی دښمن ده. که یې دربانديې حمله وکړه او خپل زندان ته یې واچوی، بیا ترې خلاصېدل او د خوښې لیدل ډېر سخت دي. جرئت وکړئ او په غټ زړه مو له وېرې سره مخ شئ. ترې وپوښتئ، هغه څه دي چې ما وېروي؟ ولې ترې وېرېږم؟ تر پېژندو وروسته مو وېره داسې یوې کندې ته خطا کړئ چې بیا یې هېڅکله مخ و نه ویني. د خپلې وېرې پر خلاف مو داسې یو کار شروع کړئ چې وېره مو وننګوي او هغې ته نور ستاسې وجود کې د اوسېدو چانس برابر نه کړي. دا کار څه دی؟ یوازې جرئت دی. دې کار ته دوام ورکړئ، دا درته د خوښۍ کور ښایي او تر بریا مو رسوي. که نه، همداسې لکه نن چې یاست، سبا به هم د وېرې په زندان کې بند پاتې وی. دا کار ډېر سخت نه دی، یوازې جرئت غواړي.

۲- تنبلي

سست، تنبل او بې علاقې مه اوسئ. دا مو بریا ته له رسېدو راګرځوي. سستي او تنبلي مو د یوې شېبې ارام پر ځای بیا ډېر وخت پر بې ځایه فکرونو او خپګان اخته کوي. ډېر کسان به مو لیدلي وي چې نن د تنبلۍ او سستۍ له امله په سخت حالت کې ژوند کوي. دا سختي او بده ورځ بل چا نه ده پرې راوستې. دا هرڅه یې د خپلې تنبلۍ او سستۍ له امله دي. که غواړې چې له داسې بدو ورځو او ستونزو څخه خوندي پاتې شئ، یوازې او یوازې له تنبلۍ او سستۍ ځان وساتئ. تر هغې مو هڅې مه پرېږدئ، څو چې مو هدف ته نه یی رسېدلي. د ژوند خوند په حرکت کې دی، نه په راحت او سکون کې.

۳- موخه نه تعقیبول

ډېری وخت مو سیالي هغه وخت له لاسه وځي چې لا سیالي پاتې وي. بریا په راتلونکي پاڼه کې ده. د راتلونکي پاڼې لپاره پرله پسې نورې پاڼې واړوئ. وایي، په ټولګې کې درې مهم ځایونه دي: موقعیت، موقعیت او موقعیت. په موقعیت کې بیا دا درې نقطې مهمې دي: تعقیب، تعقیب او تعقیب. که مو ارام او له خونده ډک ژوند پر ځان لورېږي، موخې مو تعقیب کړئ. تعقیب حوصله او بیا بیا هڅه غواړي. که له یوې لارې مو موخې ته ونه رسېدی، د تعقیب او ورته رسېدو لار مو بدله کړئ. کېدای شي هغه لومړۍ لار چې تاسې انتخاب کړې وه، سمه نه وي، خو دا ناسموالی باید د موخې او هدف د پرېښودو لامل نه شي. که مو موخې پرله پسې تعقیب نه کړې، ورته رسېدل به مو له شګو د بند جوړول وي.

۴- بد باور

هغه څه چې زړه مو غواړي لاسته یې راوړی، لاسته راوړلی یې شی. له ځانه وپوښتئ چې ستاسې په اړه څه نظر لري، ښه او که بد؟ که مو نظر مات او منفي و، هغه څه چې غواړې تر لاسه یې کړی، نه یې شی ترلاسه کولی. په دې ډول به مو بد او منفي نظر لا غښتلی شي، داسې چې راتلونکی ژوند به مو سخت او له وېرې ډک کړي. دا کار بل څوک نه کوي او نه څوک دومره وخت لري چې ستاسې په مخ کې ډبونه جوړ کړي. دا کار تاسې خپله کوی. د ځان په اړه مو ښه نظر پیاوړی کړئ، د هینداري مخ ته ودرېږئ او ژوره ساه واخلئ، ځان خپله وستایئ، له ځان سره په وار وار ووایئ، زه پیاوړی یم، زه پیاوړی یم. هغه لارې چارې و څارئ چې پرې باوري یاست بریا ته مو رسوي.

۵- د مسوولیت نه منل

زه د یوې ناحیې د پولیسو مشر وم، څو ورځې مخکې مې پولیسو ته وویل، دا دوه زندانیان محکمې ته بوځئ، زندانیانو د هغه څه په اړه چې پرې تورن شوي وو، بهانې کولې. ویل یې دا کار موږ نه دی کړی، زندان ته د هغوی له لوېدو وروسته مې پولیسو ته وویل، نابریالي او دا خلک دواړه یو شان بد عادت لري، دوی د خپل ژوند او کړې کار مسوولیت نه مني. نو اصلي خبره دا ده چې تاسې د خپل ژوند مسوول یاست، څه مو چې کړي، ښه دي او که بد، وېې منئ. که مو ومنل، پوه شی چې د بریا لار مو پیداکړه. بل ته مه په تمه کېږئ او مه د کړې کار پړه پر بل چا اچوی. خپله هڅه وکړئ، د هغه کار پایلې ومنئ چې تاسې ترسره کړی، د بدو او ښو پایلو په اړه یې بل څوک مسوول مه نیسئ. دا ومنئ چې ستاسې مخ ته پراته کارونه بل څوک نه کوي.

۶- له ناوړه کسانو سره تګ راتګ

چاپېریال دربانديې پوره اغېز لري، که مو د تګ راتګ ملګري ناوړه کسان وي؛ خوښۍ او هدف ته له رسېدو به مو لرې وساتي. د هغو کسانو په اړه چې ستاسې شاوخوا ژوند کوي یا مو تګ راتګ ورسره شته، فکر وکړئ، څنګه دي؟ ایا باصلاحیته او ستاسې هڅوونکي اشخاص دي؟ که نه، ترې لرې و اوسئ او خپله حرکت وکړئ. د ملګرو او هغو کسانو انتخاب په ښه غور او دقت سره وکړئ چې تاسې ورسره تګ راتګ کوی.

۷- لرلید نه لرل


بریالي کسان مخکې له دې چې تجربه یې کړي؛ د خپل راتلونکي(میاشتو او کلونو) تصور کوي. دوی د تصور کولو ځواک پیداکړی، هغه خوښۍ چې په ژوند، کورنۍ او چارو کې به یې لاسته راوړي، مخکې له مخکې تصور کوي. بریالي کسان د خپل راتلونکي په اړه ښه فکر کوي، هغه له خپلو هیلو او غوښتنو سره سم په ذهن کې انځوروي. دوی په همدې ډول خپله روحیه روزي، فکر او بالاخره کړه وړه یې داسې جوړه وي چې د عمل په وخت کې همداسې، لکه مخکې یې چې په اړه فکر کړی و، عمل کوي. د تصور نه شتون بد خنډ دی. کېنئ، د خپل راتلونکي په اړه ښه فکر وکړئ، هغه داسې جوړه کړئ، لکه څنګه مو چې زړه غواړي، وروسته ورته د رسېدو لپاره هم همداسې عمل وکړئ.

# د پنجشیر په یوه روغتون کې ۱۲ نوي زیږېدلي ماشومان په یوه وخت مړه شوي دي

د پنجشیر په ایمرجنسۍ روغتون کې ۱۲ نوي زیږېدلي ماشومان په یوه وخت په ناڅاپي توګه مړه شوي دي.

د پنجشیر د عامې روغتیا رییس شېردل دانش وایي چې تر دې مهاله د مړو شویو ماشومانو د مړینې لامل معلوم نه دی، خو په وینا یې چې په دې اړه څېړنې روانې دي.

نوموړي زیاته کړه چې مړه شوي ماشومان ټول تر خپل نورمال وخت مخکې زیږېدلي وو چې د کم وزن له امله د دغه ولایت په یوه روغتون کې تر جدي مراقبت لاندې وو: «ټول نوي زیږېدلي ماشومان د بېلابېلو روغتیایي ستونزو له امله بستر وو، دا چې



د دوی د مړینې اصلي لامل میکروب، مرضونه او یا تخنیکي ستونزه ده، معلومه نه ده. څېړنې روانې دي، خو تر دې مهاله بشپړې شوې نه دي.»

نوموړي زیاته کړه چې د مړو شویو ماشومانو عمرونه له شپږو تر پنځلسو ورځو پورې وو.

دانش وویل، په دې اړه یو پلاوی ټاکل شوی، څو د یادو ماشومانو د مړینې لامل معلوم کړي.

په ورته مهال د پنجشیر د ایمرجنسۍ روغتون مسوول ډاکټر محمد اکبر وفا ویلي چې له مړو شویو ماشومانو څخه درې د کاپیسا، درې د پنجشیر او شپږ نور د پروان ولایت وو.

په افغانستان کې تر خپل نورمال وخت مخکې د ماشومانو زیږېدل یوه جدي روغتیایي موضوع ده چې په اړه یې روغتیاپالانو اندېښنې ښودلې.

روغتیاپالان تر خپل نورمال وخت مخکې د کم وزن لرونکو ماشومان زیږېدل په مېرمنو د درندو کارونو کول، د حاملګۍ پرمهال د ډاکټرانو له مشورې پرته د درملو خوړل او د کافي خوړو نشتوالی ښیي.

په دې برخه کې د معیاري روغتونونو نشتوالی هم یوه له جدي ستونزو څخه ګڼل کېږي.

# عبدالله اعتراف وکړ: په خاص اروزګان کې د حکومت د اجرااتو ځنډ د مرګ ژوبلې د ډېرېدو سبب شوی

اجرایه رییس عبدالله عبدالله وایي، په خاص اروزګان کې د حکومت د اجراءاتو ځنډ د مرګ ژوبلې د ډېرېدو سبب شوی.

عبدالله عبدالله پرون د وزیرانو شورا تر غونډې مخکې رسنیو ته وویل چې په اروزګان کې به د خلکو د دفاع او خوندیتوب لپاره له هرې ممکنې لارې کار واخیستل شي.

نوموړي زیاته کړه: «کومه جګړه چې هلته روانه ده، له بده مرغه چې په خاص اروزګان کې د زیاتو خلکو د بېځایه کېدو او مرګ ژوبلې لامل شوې او دا باید ومنو چې زموږ اجراءات په ځنډ سره وو چې دغه ځنډ د مرګ ژوبلې د زیاتېدو او د زیاتو خلکو د بېځایه کېدو لامل شوی، زه ډاډ ورکوم، هغه څه چې زموږ په وس کې دي، د خلکو په دفاع کې به دریغ نه شي.»

عبدالله وویل، په خاص اروزګان کې د روان وضعیت د کابو کولو لپاره یې د دفاع وزیر طارق شاه بهرامي سره خبرې کړې او نوموړي ورته په دې برخه کې د لازمو اجراءاتو ډاډ ورکړی دی.

اجرایه رییس وویل چې د بېځایه شویو خلکو د ستونزو هواری هم په لومړیتوبونو کې دی.

دا په داسې حال کې ده چې د یو شمېر راپورونو له مخې، له تېرو څو ورځو راهیسې د اروزګان ولایت په خاص اروزګان ولسوالۍ کې درنه جګړه روانه ده چې ځینې خلک دغه جګړه قومي بولي، خو اجرایه رییس عبدالله عبدالله وایي چې د دې جګړې مسوولیت وسله والو طالبانو پر غاړه اخیستی دی.

د خاص اروزګان ولسوالۍ ترڅنګ د اروزګان ولایت یو شمېر نورو ولسوالیو او د مرکز اړوند په ځینو سیمو کې هم د ناامنیو او جګړو خبرونه ورکړل شوي چې خلک یې اندېښمن کړي دي.

د اروزګان په مرکز ترینکوټ کې له لرو سیمو د جګړې له کبله بېځایه شویو کورنیو ویلي چې روانو جګړو ترې هر څه اخیستي، د ژمي لپاره سرپناه نه لري او تر شنه اسمان لاندې شپې ورځې تېروي.

دوی غوښتنه کوي چې دولت دې د ژمي لپاره د سرپناه ځایونه ورته پیدا کړي او د خوراکي او غیر خوراکي توکو مرسته دې ورسره وکړي.

د اروزګان د کډوالو او بېرته راستنېدونکو چارو ریاست د معلوماتو له مخې، په اروزګان کې له ۱۰ زرو ډېرې کورنۍ بېړنیو مرستو ته اړتیا لري.

په ورته وخت کې د ولسي جرګې رییس عبدالرووف ابراهیمي هم د دې جرګې د دوشنبې ورځې په عمومي غونډه کې له حکومته وغوښتل چې په خاص اروزګان ولسوالۍ کې د روان ناورین مخه ونیسي.

نوموړي وویل: «دغه موضوع چې له څو ورځو راهیسې مطرح ده، دوه ډوله تفسیر کېږي، یو وایي چې جګړه قومي ده، بل وایي چې طالبانو د سیمې په خلکو هجوم راوړی چې تلفات هم لري، په دواړو حالتونو کې مسوولیت د امنیتي او دفاعي ارګانونو او حکومت په غاړه دی چې باید ژر تر ژره د دغه ناورین او د خلکو د وژنې مخه ونیسي.»

د خاص اروزګان ولسوالي، د ولایت د مرکز ترینکوټ د ختیځ په ۱۲۰ کیلو مترۍ کې د زابل او دایکنډي ولایتونو له نا امنه سیمو سره په ګاوند کې پرته ده چې له مرکز ترینکوټ سره یې د ځمکې لار له څه باندې یوه کال راهیسې تړلې ده.

مسیر ورځپاڼه
مسوول مدیر: اسدالله وحیدي
مرستیال: عبدالرقیب نوري
لیکوالان: محمد نظیم سمون، شفیق امیرزی،
جاوید کوټوال او شفیق همدرد
خبریالان: حمیدالله حمیدي، حکمت آرین،
حشمت نوري او جواد تیموري
ګرافیک او ډیزاین: ارمان
چاپخونه: وایګل چاپ ۰۲۰۲۵۱۲۶۲۶
۰۷۸۲۹۸۹۶۹۶
maseerdaily@gmail.com
0202502100 / 0777989696
www.maseerdaily.af
Maseer Daily
MaseerDaily

# Maseer

New Vision, New Journey

Daily






المبارک

توریستي شرکت

المبارک د ښه سفر لپاره غوره انتخاب دی!

flydubai

TURKISH AIRLINES

Emirates

ARIANA

0786 55 55 91
0786 55 55 92
0786 55 55 93
0777 77 78 55

کابل د میوند جادې وروستۍ برخه، خوست ټاور، لومړی پوړ.



سه شنبه د ۱۳۹۷ د لړم ۱۵مه | د ۲۰۱۸ د نومبر شپږمه | دویم کال | ۲۸۰یمه گڼه

www.Maseerdaily.af twitter/MaseerDaily Facebook/MaseerDaily



| کابل | هرات | کندهار | بلخ | ننگرهار | خوست |
|---|---|---|---|---|---|
| ۱۸ | ۲۲ | ۲۳ | ۱۸ | ۲۵ | ۲۱ |
| ۱ | ۸ | ٦ | ٤ | ۹ | ۷ |

شرعي وختونه: سهار ۰٤:۵۳ | لمر ختل ۰٦:۱۷ | ماسپښین ۱۱:۳۷ | مازیگر ۰۳:۱۷ | ماښام ۰٤:۵٦ | ماخوستن ۰٦:۲۲

## نړۍ




## په ایټالیا کې د توپان د قربانیانو شمېر په ډېرېدو دی



په ایټالیا کې د وروستي توپان د قربانیانو شمېر ۲۹ ته لوړ شوی دی. یاد توپان د مرگ ژوبلې په اړولو سربېره درانه مالي زیانونه هم اړولي دي.

رسنیو د ایټالوي چارواکو په حواله خبر ورکړی، په داسې حال کې چې د دغه هېواد په ځینو سیمو کې شدید توپان او باران لا هم دوام لري د وژل شویو کسانو شمېر ۲۹ ته رسېدلی دی.

د توپان او اورښتونو له کبله تر ټولو ناوړه پېښه په سیسیل ښار کې شوې ده. په دغه ښار کې د سیلابونو له کبله دوه کورنۍ ویجاړ شوي او غړي یې وژل شوي دي.

د دغه ښار په کاستلداچیا سیمه کې هم د سیلابونو له کبله د یوې کورنۍ نهه غړي وژل شوي او یوازې درې نور چې د سېلابونو د راوتلو پر مهال له کوره بهر وو، ژغورل شوي دي.

د یورو نیوز د راپور پر بنسټ، شدید اورښتونه او سېلابونه د ځمکښویېدنې سبب هم شوي چې له کبله یې په پالرمو ښارگوټي کې خلکو ته مرگ ژوبله اوښتې ده.

پر یادې مرگ ژوبلې سربېره د یو شمېر کسانو د ترې تم کېدو خبر هم ورکړل شوی چې ژغورونکې ډلې یې د موندلو هڅه کوي.

## عضو ولسی جرگه: کرسی های ولسی جرگه از پنجاه تا چهارصد هزار دالر خریداری شده است



یک عضو ولسی جرگه مدعی است که کرسی های این جرگه، از پنجاه هزار تا ٤۰۰ هزار دالر امریکایی خریداری شده است؛ اما کمیسیون مستقل انتخابات این اظهارات را به شدت رد می کند.

محمد موسی جناب نماینده مردم بادغیس در ولسی جرگه در نشست دیروز این جرگه، بدون ارایه جزییات ادعا کرد که برخی نامزدان، کرسی های ولسی جرگه را از ۵۰ هزار تا ۴۰۰ هزار دالر امریکایی خریداری کرده اند.

به گفته موصوف، پول ها برای خرید کرسی ها در سرای شهزاده جمع آوری شده است.

عبدالرؤف ابراهیمی رئیس ولسی جرگه، در مورد این ادعاهای جناب اظهار نظر نکرد؛ اما از کمیسیون انتخابات خواست تا هرچه عاجل، نتایج انتخابات ولسی جرگه را اعلام نماید؛ زیرا به گفته او تاخیر در اعلام نتایج، شک ها را به وجود می آورد.

قرار بود نتایج این انتخابات در نوزدهم عقرب اعلام شود؛ اما کمیسیون مستقل انتخابات اخیراً گفته است که این نتایج در دوم قوس اعلام می شود.

سید حفیظ الله هاشمی کمیشنر و سخنگوی کمیسیون مستقل انتخابات، در مورد پرداخت پول برای کسب عضویت ولسی جرگه گفت: «این آوازه های سرچوک است، هیچ کس چنین صلاحیت و توان را ندارد که کرسی ها را به فروش برساند، کسانی که رای گرفته باشند، مستحق نماینده گی مردم می باشند و به این جرگه راه پیدا می کنند.»

به گفته او هر عضو جرگه که در مورد تقلب و فساد در انتخابات معلومات و اسناد دارد، آن را با کمیسیون و ارگانهای امنیتی شریک سازند تا متخلفین از قانون، شناسایی و مورد پیگرد قرار گیرند.

## د پاکستان د بشري حقونو کمېسیون: اسلام اباد د ولسواکۍ او قانونواکۍ په ساتلو کې پاتې راغلی



د پاکستان د بشري حقونو کمېسیون د اسلام اباد او تحریک لبیک تر منځ شوی تړون غندلی دی.

تحریک لبیک په پاکستان کې د اکتوبر له ۳۱ مې وروسته چې د دغه هېواد سترې محکمې د اسلام سپېڅلي پیغمبر ته په سپکاوي د تورنې اسیې بي بي د اعدام سزا لغوه کړه، ستر لاریونونه وکړل.

د تحریک لبیک لاریونونو چې له تاوتریخوالي ډک وو، درې ورځې دوام وکړ؛ خو وروسته اسلام اباد له تحریک لبیک سره تړون کولو ته اړ شو او حکومت ومنله چې اسیه بي بي به ممنوع الخروج گرځوي او که تحریک لبیک د قضیې د بیاکتنې په تړاو سترې محکمې ته وړاندیز وکړي، نو حکومت به پرې اعتراض نه کوي.

تر دغه تړون وروسته د تحریک لبیک لاریونونه پای ته ورسېدل، خو تازه د پاکستان د بشري حقونو کمېسیون ویلي چې حکومت د ولسواکۍ او قانونواکۍ په ساتلو کې پاتې راغلی او سختدریځو ته تسلیم شوی دی.

د پاکستان د بشري حقونو کمېسیون د یوې خبرپاڼې په خپرولو سره ویلي، دوی پر دې خواشیني دي چې د پاکستان حکومت د سختدریځو غوښتنو ته تسلیم شو.


د پاکستان د اطلاعاتو وزیر فواد چوهدري بیا خبرداری ورکړی چې حکومت به هغه کسان ونیسي چې د نومبر د لومړیو ورځو په لاریونونو کې یې پر تاوتریخوالي لاس پورې کړی دی.

چوهدري په ورته مهال له تحریک لبیک سره د شوي تړون ننگه کړې او په یو ډول یې منلې چې اسلام اباد له دې پرته بله لاره نه درلوده.

نوموړي ویلي چې له تحریک لبیک سره د تړون لاسلیکول د حالاتو د کنټرول او تاوتریخوالي د ختمولو یوازېنۍ لار وه.

## ژوند

## زیات لامبل مو وېښتان زیانمنوي!




څېړونکي وایي، زیات لامبل وېښتانو ته زیان رسوي. د (Health daily news) د راپور له مخې د (یوټا) پوهنتون څېړونکو ثابته کړې چې له کچې زیات حمام کول د وېښتانو لپاره د گټې پر ځای زیان رسوي.

د جینیټیکي علومو دغه مرکز وایي چې زیات لامبل پر پوست د ځینو گټورو باکتریاوو د له منځه تلو لامل کېږي. دغو څېړونکو پر دوو ډلو چې یوې یې په اونۍ کې درې ځله او بلې یې په اونۍ کې هره ورځ د خپل سر وېښتان مینځل، څېړنه کړې ده. په پایله کې ثابته شوې، هغه کسان چې هره ورځ یې لامبل، وېښتان یې کمزوري او د ناروغیو پر وړاندې یې د بدن مقاومت هم کمزوری ښودل شوی دی.

دوی د دغه توپیر اصلي لامل او د بېلابېلو شامپوگانو کارول ښودلي چې د پوست گټورې باکتریاوې له منځه وړي او وېښتان ورسره کمزوري کېږي.

## د کور په کارونوکې د ماشومانو ونډه!



پاک، ښایسته او منظم کور نعمت دی. دغه ډول کورونه د ځان لپاره شرطونه لري چې تر ډېره ستاسو په ماشومانو پورې اړه لري. ماشومان کولای شي له درې کلنۍ وروسته د کور په کارونو کې برخه واخلي. «ان باکس» مشهور او پېژندل شوی ارواپوه دی چې د کور په کارونو کې یې د ماشومانو د ونډې په اړه ځینې لارې چارې په گوته کړې دي. هېڅ یو ماشوم هغه مسوولیتونه چې ورته سپارل شوي، په اسانۍ سره له یاده نه باسي. له کوچنیوالي- حتی له درې کلنۍ څخه له هغوی څخه وغواړئ چې هر سهار یې خپل وېښتان منظم ږمنځ کړي او خپل د لوبو سامانونه یې په یو ځانگړي ځای کې کېږدي. کله چې دوی هر سهار دغه کارونه سرته رسوي، په حقیقت کې تاسو خپلې ټاکلې موخې ته رسېدلي یاست. د کور په کارونو کې د ماشومانو مرسته د هغوی سن او تیاری ته په کتو توپیر کوي. د ماشومانو لپاره د کور په کارونو کې مرسته کول، دوی ته د یوې طبیعي کړنې په ډول وښایاست. د هغوی لپاره دا روښانه کړئ چې دوه ډوله مسوولیتونه موجود دي. ماشومان کولای شي له شپږ کلنۍ وروسته د دوو یا دریو شخصي کارونو او یوه کورني کار توان ولري او پر غاړه یې واخلي.